مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۱۹/۱۲/۱۰

# د زړه آواز

یو اوچت غوندی پرواز وم ، خـو چـا ونه لیدم
د دردمـــنو د زړه راز وم ، خـــو چا ونه لیدم

د زمان له ســترګوپټ ، د دنــیا په یوه ګوټ کي
معرفت د ورشـــو باز وم ، خـو چـا ونه لیدم

په وینا کي می د درد ، د هر چا وو ، د زړه درد
صاحبدل غوندی همراز وم ، خـــو چا ونه لیدم

عاجزی اوښکي می تل رواني دي ، له ســترګو
یو لمبه د ســوز و ګداز وم ، خـــو چا ونه لیدم

د زړه دردونه ویني ، دردمن می په ویـــنا کي
د هر چـــا د زړه آواز وم ، خو چـــا ونه لیدم

مست شانی یو ســـازوم ، له ځنګلونو وم ،وتلی
په تارونو کي ، شـــهباز وم ، خو چا ونه لیدم

ځوک په قدر زما پوه نشول ، دې ماحـــول کي
د پردې شـــاته پټ ساز وم ، خو چـــا ونه لیدم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راایرلو مخکي په ځیر و لولـئ